## د شواهدو او معلوماتو خوندي کولو لپاره لارښوون

کېدای شي تاسي به څه ليدلي وي يا به په څه پوهيږئ چې کېدای شي له تحقيق سره مرسته وکړي.

اوس چې ستاسي حافظه تازه ده، که کولای شئ تاسي بايد هر هغه څه وليکئ چې تاسي فکر کوی په موضوع پوري به اړوند وي.

لاندې د اسنادو ساتنې په اړه يو شمير لارښووني دي، چې کېدای شي له حقوقي پلوه ګټور وي.

مګر که يو شاهد/ژغورل شوی کس/ د هغې کورنۍ غړی چې يو کس يې له لاسه ورکړی وي کوم سند چمتو کوي، کېدای شي دغه سند په کومه جرمي يا مدني اجراتو او تحقيق کې د ښودلو وړ وي.

څکه نو، د پيل مسلې په توګه، وړاندې تردې چې دغسې سند چمتو کړئ، د حقوقي مشورې په لټه کې شئ.

د لا نورې زياتې مشورې لپاره يا د حقوقي وکيل موندلو مرستې لپاره د INQUEST له خيريه موسسې سره پدغه شميره (020 7263 1111) يا د North Kensington Law Centre سره پدغه شميره (020 8969 7473) اړيکه ونيسئ.

## څرنګه شواهد مستند کړئ.

1. د خپلې لومړنی ژبې څخه په کار اخيستلو سره، د نيټې او وخت په ترتيب سره هغه څه چې مو ليدلي/ اوريدلي وليکئ، او دا واضح وليکئ چې دغه کوم څه تاسي خپله ليدلي يا دغه معلومات د يوه بل کسل لخوا تاسي ته ويل شوي، که بل کس وي، د دغه کس نوم بايد وليکل شي.

2. د هر هغه کس سره چې تاسي لکه د پوليس افسر، اصلي افسر، رضاکار، ملګرو، نوم، د دندې نوم او د اړيکو جزييات وليکئ، او دا هم وليکئ چې آيا هغه معلومات چې تاسي ورکړي هغوی ياداشت کړي.

3. هڅه وکړئ څو هغه څه اضافه نه کړئ چې نورو خلکو درته ويلي چې هغوی څه ليدلي يا اوريدلي. هغوی ته ووايَاست چې خپله خپل سند وليکي او تاسي دغه بيل يادداشت کړئ.

4. که تاسي يو بل کس ته د هغو معلوماتو چې تاسي ليدلي يا اوريدلي د يوې برخې يا ټولو وړاندي کولو په اړه اندېښنه لرئ، خپلې اندېښني وليکئ.

5. د ياداشت په پای کې وخت او نيټه وليکئ، او دغه (په لاس ليکل شوی يا برېښنايي) سند په يوه خوندي ځای کې وساتئ.

6. لکه څرنګه چې ستاسي په ياد راځي نور معلومات اضافه کړئ، مګر په ياد ولرئ چې کله دغه کار کوئ نيټه يې هم ويلکئ.

7. که تاسي د کومې اړوندې مسلې عکس، ثبت شوي غږونه یا نور ساتئ، په یاد وساتئ چې دغه د وسیلې په هارډ ډرایو کې وساتئ. که تاسي پدې نه پوهیږي، له چا سره مشوره وکړئ.

پدې اړه فکر مه کوئ چې آیا دا معلومات به د کاروونې وړ وي یا به نه وي. دا مهمه ده څو د اور لګېدنې په ورځ، وړاندې یا وروسته، پشمول د خوندیتوب اندیښنو ساحو کې له هغو کسانو چې دغه یې لیدلي تر ممکنه حده هرڅه ډیر معلومات راټول شي.

.